# سریزه

اداره

دا د نولس سوه یو کم اویایم کال ؤ. په ملک کښې د اویایم د انتخاباتو دپاره تیاري روانه وه، ولي خان دا وخت لا ښه په جوبن کښې ؤ، د سر وښته ئې د نیم نه زیات تور ؤ، د صوابۍ علاقې په دوره کښې ئې مونږ هم ملګري وو او چې کله به هم دغلته جلسه کېده نو د مردان نه به تقریباً یو لوئے جلوس جوړېدو. مونږ د مردان په هره کوڅه کښې جلسه کړې وه. راحت خان بابا او زهٔ چې به هرې جلسې له تلو نو هغه به د بغدادي د امیرمحمد خان تر کوره ورغے هغه به راووتو د راحت خان بابا په جیپ کښې به کښېناستو او جلسې له به لاړو. ما ته یاد دي چې یوه ورځ د امیرمحمد خان د کور مخې ته په یوه ډاکه کښې د شپې جلسه وه. مهردل خان کاکا، شهزاد ګل باچا او امیرزاده خان او نور ډېر مشران هم پکښې موجود وو. د امیر محمد خان د بغدادي یو خپل ستائل ؤ. هغهٔ به د تاریخ په حواله ډېرې جرات مندې خبرې کولې. ما د هغهٔ سره د هغهٔ په ژوند ډېره موده پس په فون خبرې کړې وې او چې کله په حق ورسېدو نو دعا ته هم ورته حاضر شوے وم.

زهٔ د هغې چا شکریه ادا کوم چې دغه تاریخي چاربېته ئې راته سره د څهٔ نورو معلوماتو راولېږله:

**یو ځلې بیا په دې لار راشه**

په پخوانو پلونو دې پرېوتل ګردونه

د دغې پلونو نه د ګردونو څنډلو په غرض ئې مونږ د "پښتون" په پاڼو خورو، چې د هغوي د یاد حق هم ادا شي او زمونږ په ذهنونو کښې هم زمونږ د اتلانو تاریخ تازه شي.

ایډیټر پښتون

په ۱۹۶۱ء کښې چې د باچاخان د مشرۍ لاندې پښتنو د پاکستان د قبلئیزې سیمې د څلور صوبو نه د یو یونټ جوړولو خلاف اواز پورته کړو او د دې په آئیني حېثیت ئې اعتراض وکړونو په نتیجه کښې ئې فخر افغان خان عبدالغفارخان سره د خپلو ملګرو ګرفتار کړے شو او درنې جرمانې پرې هم وخېژولې شوې. د دې ګرفتارۍ په نتیجه کښې بې شماره خدائي خدمتګارو خپل ځانونه ګرفتارۍ له ورکړل. د سزا کېدو نه پس دغه ټول سیاسي قېدیان په ملک دننه لرې لرې بندي خانو ته واستولے شول او هم دغسې د خدائي

خدمتګارو يوه ډله چې سپينږيري مشران پکښې په شمېر زيات وو په نيو سنټرل جېل ملتان کښې داسې بندي کړے شول چې د قېد سره ورتـه د سخت مشقت سزا هم واورولې شوه.

پښتانهٔ د چايو ډېر شوقيان دي خو په دغه جېل کښې به ورتـه سحر وختـي د چايو په ځائے ګوړه او چڼه ورکولې شوه. د خدائي خدمتګارو دغې ډلې په جېل کښې د ګوړې او چڼې خلاف احتجاج وکړو او پـه نتيجـه کښـې ورتـه د چـايو دېګ منظور کړے شو. پـه دې مشـرانو قېديانو کښې يو زلمے هم ؤ. د بغدادې اميرمحمد خان چې عمر بـه ئې محض اوولس کالـه ؤ کلـه چې دے پـه خدائي خدمتګار تحريک کښې شامل شوے ؤ. دهٔ ته هم پـه مشـقت کښې د بوڼ غښتلو سزا ورکړې شوې وه. د چـايو دپـاره پـه هړتـال کوونکو کښـې دغه زلمے هم شامل ؤ او د دغه دېګ په منظورېدو کښې ئې ډېر کوشش کړے ؤ. وروستو ورتـه بيا د دغه دېګ مشري هم ور په غاړه کړې شوه. د ملتـان ګرمـي، د جېـل پابنـدي، سـورنمر او پـه نـازکو لاسونو د بوڼ غښـتل ځان لـه يو بېل داستان دے چې ښاغلي اميرمحمد خان ئې پـه خپـل ناچـاپ شوي کتاب کښې تفصيلي ذکر کړے دے او کلـه چې دغـه کتـاب شـائع شي نو د دې ملي مبـارزو د ټول ژوند دردناک داستان نـه بـه لوستونکي خبر شي، دا چار ببته د دغه تکاليفو يوه په زړهٔ پورې نقشـه رامخې تـه کوي چې د سعادت خـان جلبـل مرحوم د جذباتو عکاسي کوي.

جلبل مرحوم د دې چاربيتې خالق دے هغـه يو ښهٔ اولسي شاعر او ملي مبارز ؤ. د هغهٔ رزميـه نظم" مېنـدو زامـن نـران بخښـلي دي- پـه پښـتو ملـي شـاعرئ کښـې د خپـل وخـت شـاهکار دے. دا نومـوړے شـاعر پـه هشـنغر کښـې د ترنګـزو اوسېدونکے ؤ او يو ناچاپه دېوان ئې موجود دے، دے هم په دغه جېل کښې بنديوان ؤ.

شاعر ځوک چې د خپل وخت خپل ماحول او د خپـل چاپېرچـل حقيقـي ترجمـان وي. دے پـه هـر حالت کښې د خپلو جذباتو د اظهار لاره لټوي د دهٔ احساسات د کلهم انسانيت دپاره وي. د يو انسـان بنديوان کول خو اسان وي ولې د هغهٔ د جذباتو او احساساتو بنديوان کول د چا د وس خبره نهٔ ده. دې شاعر د خپلې اسيرئ په ورځو کښې هم د خپلو ملګرو پښتنو ټول کړهٔ وړهٔ تر نظره ساتلي دي دا څهٔ عجيبه خبره نهٔ ده چې د پښتو ادب ډېره برخه هم د جېل د ژرندو او سيخونو د وروستو تخليق کړې شوې ده. هسې خو د دې نوموړي شاعر ډېر ناچاپه کلام موجود دے ولې دلتـه د چايو د دېګ او د ملتان د جېل دا چاربېتـه د يو تاريخي اثر پـه توګه تر چاپه راوستے شي. خدائے دې د پښتو ادب مئينانو له وس ورکړي چې هغوي د سعادت خان جلبل مرحوم ټول ناچاپه کلام راجمع او شائع کړي او د دې پـه ذريعـه دا وګړي د خپلـو مشـرانو او آزادي خواهانو د بې شماره هلو ځلو نه خبر شي.

- امير محمد خان د بغدادې خان چې د اوولسو کـالو پـه عمـر کښـې پـه خـدايي خـدمتګار تحريک کښې شامل شوے ؤ.
- محمد امين د تنګي.
- ګوجر خـان د مـانيرئ تحصـيل صـوابئ د دهٔ ملا کښې پېدائشي نقص ؤ. جلسې لـه بـه پـه سنډا سور تلو او په سر به ئې څادر اچولے ؤ.

- اسماعیل زئے د بائیزو میا خان کلے تحصیل مردان.
- نوبت خان د ډاګۍ تحصیل صوابۍ، زلمے.
- سرباز د سردریاب سره نزدې د غړمبک کلي اوسېدونکے دے.
- هارون شبوه تحصیل صوابۍ.
- حاجي خطاب الدین د ګوجرو ګړۍ.
- عبدالله کاکا د تنګي چارسدې.
- غلام رسول د بابو فضل الهي زوئے د پخه غلام اوسېدونکے دے.
- عزیز الحق د تنګي.
- عبدالاکبرخان د ترنګزو چارسده.
- نصرالله خان.
- شاد علي خان لنډے تحصیل صوابۍ.
- سعادت خان جلبل ترنګزو.
- ملنګ شاه د امازو ګړۍ.
- اکرم خان د کوتک ترناؤ چارسدې.
- ممروز د ترناؤ چارسدې.
- احمد د چارسدې.
- عبدالحق د درګۍ تحصیل چارسده.
- عبدالوسیع کاکا د خویشکي تحصیل نوښار.
- برکت کاکا د یعقوبي صوابۍ.
- فضل الرحمان کاکا جلسۍ صوابۍ.
- نامبات یارحسین تحصیل صوابۍ.
- فضل خان کوتک ترناؤ.
- میر رحمان د میرو تحصیل چارسده د لسو بېنتو سزا خوړلې وه.

# د چایو دېګ

جلبل
نیو سنټر جېل ملتان
۲۸/ ستمبر/ ۱۹۶۱

په نیو سنټرل جېل کښې ټول د ښلمې بوډاګان دي
دلته دایمان ټوټې بې شکه چې نران دي
شمار باندي یو څو کسه پکښې ښکلي ځوانان دي
دوي کډې اړولې جېل خانه کښې د ملتان دي
هر یو په لیلا د خپل وطن باندې شېدا دے
دېګ سره روان امیر محمد دے د بغدادې

ښۀ توریالے ځوان دے خو پازاب کړو زېرو خرئېلو
لاس کښې ئې سګریټ دے ملازم ته وائي لېلو
چغه ئې بوډاګانو ته کړه راشئ پښې نه ښکېلو
ستاسو به هارونه وي مرۍ کښې د رامبېلو
خان امیر محمد باندې عاشق ملنګ شلا دے
دېګ سره روان امیر محمد دے د بغدادې

څۀ وائي د ځانه څۀ اخبار کښې دي لیکلي
ډېر پکښې په خپله امیرمحمد وي راګ رانښکلي
وائي بوډاګان امیر محمد وي اخبار ښکلي
نۀ راځي اوس خُلې له د بوډا لاړې توکلې
خوار ملا بهادر زوړند په لاس د تیمبولا دے
دېګ سره روان امیرمحمد دے د بغدادې

دېګ له چې ورځي محمد امین په سُر روان وي
دا غریب ناجوړه همېشه اخته په ځان وي
وېش باندې دۀ دېګ ورسره جنګ د ګوجر خان وي
بوټ تندے ولاړ خوا کښې د دېګ خاموش حېران وي

نر سړے دے ځکه پرې نظر د پاک مولا دے
دبګ سره روان امیرمحمد دے د بغدادې

ښۀ اسماعیل زئے دے د بائزو کلي میا خان
ملا باندې کړم دے خو ګټې پښتونستان
خاندې ورته لرې نه چې دبګ وي راروان
چائے ژمي کښې ښۀ ده مونږ سره دي بوډاګان
شابه کړئ زر راشئ نومبت وائي وار د چا دے
دبګ سره روان امیر محمد دے د بغدادې

وائي نومبت خان چې وار په وار یو یو رادرومئ
بې واره رانۀ شئ په خپل وار په داؤ رادرومئ
شابئ دبګ تالا شو خلقه دې پلؤ رادرومئ
وېش دے په لوټو مشر سرباز ناست په تکیا دے
دبګ سره روان امیر محمد دے د بغدادې

ګورئ تماشې ته هارون خان نۀ کړي خبرې
ناست حاجي صاحب دے د ګوجرو ګړې لرې
دبګ له عبدالله کاکا را الوزي لکه کرې
چائے غواړئ خوره خوار افیم خور دے په غوغا دے
دبګ سره روان امیر محمد دے د بغدادې

ګرځي ګرندے سلطان الدین لکه هوسۍ
تۀ به وائې نیسي څوک روان دے چا پسې
ښکاري بهادر په زړۀ کښې نشته وسوسې
خوري د جبل ډوډۍ په خوند په شان د امرسې
نۀ ئې پېژنم نور د فضل خان د خواؤ شا دے
دبګ سره روان امیرمحمد دے د بغدادې

سپین سټوکے پرېښے د میرزو دے میر رحمان
قېد په مارشل لاء کښې دے عاشق د باچاخان
نۀ خیږي بېړې ته خو په قېد د اکرم خان
ښۀ انډے کونډے دے د ممروز او عزت خان
دریم ئې ښۀ ملګرے احمد ګل نېک د بیدیا دے
دبګ سره روان امیر محمد دے د بغدادې

ورشي محمد شاه څوک داروغه چې راروان وي
دۀ باندې اختر وي چې ډپټې سره سامان وي
چائے په پټه څښي ورسره ناست ملازمان وي
ګوره هر افسر سره ولاړ د سوکړ خان وي
د جېل د هر افسر هر یو ورکوټي لوئے اشنا دے
دبګ سره روان امیرمحمد دے د بغدادې

دبګ چې رادننه شي د چایو شي اختر
مخ د هر یو کس رڼا کوي لکه د نمر
ډېره خوشحالي ده جېلخانه کښې د سحر
وائي هر بوډا چې دبګ زما شوے سراسر
تۀ جلبله پروت لکه د مړي د چا یاد دے
دبګ سره روان امیرمحمد دے د بغدادې

## مبارکي

د پښتون اداره د ښاغلي افراسیاب خټک به حېثیت د امن سفیر په منتخب کېدو او د ښاغلي ډاکټر فضل الرحیم مروت د ټیکس بُک بورډ پېښور په چیئرمین مقرر کېدو د خوشحالۍ اظهار کوي او دوي دواړو ته د زړۀ له تله مبارکي وائي او دعا کوي چې الله پاک دې د دواړو ښاغلو مشرانو نه د پښتون قام د ګټې او فائدې کارونه واخلي.